# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد	بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم	از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com	www.afgazad.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعی


۲۶ جولای ۲۰۱۲

## د ډاکټر زيار د معياري پښتو تضادونه او تناقضونه

**آ بله ورځ نابېره د معياري پښتو د اصولو او قواعدو په اړه د پوهاند ډاکټر زيار صاب (صاحب) پر يوه ليکنه پېښ سوم، چي د« د رغاونيز يا پښوييز (ګرامري) يووالي آرونه (پرنسيپونه)** » په نامه يې خپره کړې وه . خدای شاهد دئ، نورو اثارو غوندي يې ددې ليکنې د عنوان په مانا هم ګرسره پوه نه سوم . کنداريان وايي : « په تياره کي ګرده خلګ ببريږي؛ خو ځيني حال وايي، ځيني يې نه وايي . » زه باور لرم، که تاسي درانه لوستونکي هم د زړه حال و واياست، ښايي ډېری زمايه ډله کي اوسئ . فرق يوازي دونه بولم، چي زه خپل حال وايم؛ خو تاسي به په دې يا هغه پلمه خپل حال نه واياست . خير، **که څه هم د ډاکټر زيار صاب د ليکنو هضمول ډېر ګران او درونډ کار دئ؛ هر څوک يې زغم نه لري؛** دا پلا مي د هر بل وار پر خلاف له ځانه سره ټينګ هوډ وکئ، چي هرومرو بې(به يې) له دې «علمي ارشاداتو» څخه څه نا څه بودوم . د ګرانو لوستونکو د اسانۍ او دقيق قضاوت دپاره د ډاکټر صاب د«عالمانه نظريو» او خپلو ماتو ګوډو انتقادي خبرو متن، د پوښتني او جواب په بڼه يو تر بل لاندي، په تور او شنه رنګ وړاندي کوم . په تور رنګ ليکل سوئ متن د ډاکټر صاب بيان دئ، چي کټ مټ کاپي سوئ دئ؛ او په شنه رنګ ليکل سوئ متن زما جوابي بيان دئ .

دا پرنسيپونه د يادشوي پروسيجر په رڼاکي د پورتنيو معياري يا توليزو پرنسيپونو د کاروني لپاره پر کار راتلاي شي او د هغو علمي کول کېدوني کولای شي. په بله وينا داسي آرونه (پرنسيپونه) چي د هغو له مخي موږ په راز راز ګړدودي ګرامري ځېلونو (وارينټونو) کي د غورځوني (اطراد) او يا غوروني (انتخاب) اجازه ولرلای شو:

**۱- دويو نکو ډېروالی**،دا په دې مانا چي د يوه ګرامري توک له مخي له څوارينټونو څخه هماغه يوه ته معياري ارزښت ورکړ شي چي د ويونکو شمير يې ډېر وي، لکه: (ورځ) د (روځ)، (ځمکه) د (زمکه)، (شته) د (سته) يا (ما نيولی دی) د (ما نيسلی دی) پر وړاندې. په دې لړ کي منځنۍ پښتو د نورو درېواړو ګړدودي ډلو پرخلاف يو نيم تاريخي (لرغونی) آواز خوندي ساتلی، خو د ويونکيو د لږوالي پر بنسټ کره نه شي منل کېدای، لکه س په سګه، ډېرس ، مسر، کسر... کي .

۱- پوهاند صاب! د ویونکو د ډېروالي او لږوالي یا اکثریت او اقلیت مسأله به څوک سپینیي؟!

مهرباني وکئ وواياست، چي د کمي (کومي) لهجې ( گړدود) ویونکي ډېر او د کمي غي لږ دي؟! که څه اسناد او شواهد لرئ ، وړاندي یې کئ، که نو په پښتنو کي د دې یا هغي لهجې، دې یا هغه قبیلې، دې یا هغي خوا د ډېري او لږي خبري داستعمارگرانو طرحه ده؛ او یوازي د هغو و استعماري گټو ته خدمت کیي( کوي) . ستاسي په یاد دي که یا، په کابل کي د روسي یرغلگرو مزدور رژیم زموږ واحد ملت ( افغان ملت) پر شلو « ملیتو» و وېشئ . د ملیت پشتون، ملیت تاجک، ملیت ازبیک او ملیت زحمتکش هزاره پوچي او بې مانا خبري یې را و ایستي . د هیواد و ریښتینو بچانو ته د دې ناولو استعماري نخشو مخسد( مقصد) او مرام لمر غوندي روښانه ؤ؛ خو د روسي استعمار ځیره خورو د خپلو کرغېړنو گټو او امتیازاتو پر بنسټ، په هغه هیڅ سر نه خلاصاوه . په تېرو دېرشو کالو کي مو د دې نفاق او شقاق خونړئ نتیجي د سر په سترگو و لیدلې . سره له هغه هم دا دئ نن د ډېري او لږي په نامه د پښتون قام و بېلولو او جنگولو ته ملاوي تړلي کیږي .

ډاکټر صاب! په دې خبره باید سد و رسوو، چي د لږي او ډېري خبري په پښتنو کي شخړي، لانجي او ناخوالي راپورته کیي . د کندوز له امام صاب څخه بیا تر اټکه، له سوات او نورستان څخه بیا تر هراته پوري، ټول پښتنانه په سره اور کي ژوند کیي . کي( که یې) د روان ناورین په ختمولو کي څه مرسته نسو کولای، په لوی لاس یې باید په نورو کړاوو او ناخوالو کي ښکېل نه کو.

له کمه ځایه وپوهېداست، چي « دېرس »، « کسر»، « مسر » او داسي نور تر « دېرش »، «کشر»، « مشر» او داسي نورو لرغوني دي؟ ایا په کوم ډبرلیک(کتیبه) یا مستند اثر کي مو لېدلي دي، که خپل نظر واياست؟ که ستاسي ادعا سمه او مستنده يي(وي) بیا خو دا کار هیڅ عیب نه لري، چي دا لرغوني او اصیل تلفظونه په نور پښتنو کي هم باب سي . که باب هم نه سي، ایا ژبپوه ځان ته دا حق ور کولای سي، چي د ځینو پښتو ټکو سوچه او لرغوني شکلونه د هغو د ویونکو د شمار په سَوَب وکړي؟! عجبه خو دا ده، چي «دېرس »، « کسر»، «مسر» او داسي نورو ته د لرغونو بنو په سترگه گورئ؛ خو « سو»، « سي »، « سته » او داسي نور مغیره شکلونه بیا د « پټي خزانې » پر ټولو اثارو او شواهدو سربېره، اصیل او لرغوني نه گڼئ؟! تاسي ته ښه مالومه ده، چي انگرېزي ژبه د نننۍ نړۍ تر ټولو مهذبه او پرمختللې ژبه ده . سره له دې هم، په دې ژبه کي تر اوسه پوري نه د بېلابېلو ټکو په وینگ یا تلفظ کي اختلافونه له منځه تللي دي؛ او نه یې هم په کښنگ یا لیکدود کي . د « سو » یا « شو»، « مسر» یا « مشر»، « ږغ » یا « غږ » په لیکلو سره اسمان و مځکي ته نه را لوېږي . که په داسي کوچنیو موچنیيو توپیرو سره واقعاً اسمان و مځکي ته را لوېدای، نو انگرېزي ویوونکو خلگو بې کلونه کلونه مخکي لا مخه نیولې وای؛ مگر انگرېزي ویونکي اولسونه پوه، هوښیار او متمدن خلگ دي؛ پر داسي چټي، بې گټي او بې ځایه شیانو هیڅکله خپل ارزښتناک وخت نه ابته کیي . هغوی شپه او ورځ د ژبي د ادبي او علمي ژېرمو و اَرَتولو او بډایولو ته کار کیي .که موږ یوه کلیمه په لسو - پینځلسو بڼو او شکلو ویلای، بیا نو دا ښه او گټوره خبره وه، چي یوه یا دوه شکلو ته د معیاري په سترگه وگورو. البته، هغه هم نه د یوه یا دوو سرزورو کسانو په فرمان، بلکي د درست هیواد او حتا درستي سیمي د پیاوړو ژبپوهانو، لغتپوهانو، متنپوهانو او څېړنکو تر علمي سلا مشوري وروسته .

**۲- توپیر او نه التباس**،په دې مانا چي د یوه فونولوجیکي او گرامري توك له وارینونو څخه هماغه یوه ته معیاري ارزښت ورکړ شي چي له نورو معیاري امرل شوو توکونو سره یې توپیرو شي، په بله وینا، د التباس او یو له بله

د تکر مخه يي ونيول شي. د ژبنيو توکونو تر منځ توپير او نه التباس يو ژبنی قانون او ناموس ګڼل کېږي، لکه (شول) د (سول) پر ورانديز چي له (سوځل) سره يي تکر راځي، همدارنګه سيوری - سوری ، پسور - سور، خپور - خور ... در واخله.

۲- دا خبره کاملاً معقوله ده، چي د يوه ټکي په مغيره بڼو (variants) کي بايد هغه بڼه د معيار په توګه و منل سي، چي له نورو ټکو سره د التباس يا ګډېدو پېچومه پېښه نه کړي؛ خو په دي برخه کي اساسي شرط دا دئ، چي دا اصل د ژبي په ټولو لهجو کي يو شان تطبيق سي؛ مثلاً : خوله ( کلاه) له خوله ( دهن) او خوله( عرق)، خواله ( خوا + له، بسويم، بطرفم) له خواله ( همرازی، دلجوئی)، بريد( تېری، يرغل، حمله، يورش) له بريد(حد، سرحد، پوله)، راشه ( بيا، بيائيد) له راشه (رشه، حاصل ګندم)، کومه ( کدام، تا کدام) له کومه ( دهن) او کومه (می کنم)، شوه ( شُد) له شَوَه( شيوه، کښته، خَوَړ، سراشيب، مقابل سربالا)، لرې( په ختيځه او مرکزي لهجه کي د ليري يا دور په مانا) له لرې( داری)، پېښي(حوادث، واقعات، رخداد ها، پيش آمد ها) له پېښي( تقليد کردن، ريشخند زدن، د يو چا ساز وهل)، مستي(نشه، وجد، نشاط، بي خودی، بي هوشی، بي حالی، بازی، لوبي، ساتېری) له مستي(ماست) بلي (برافروخته، مشتعل) له بلي(آري، هو)، چي (په ختيځه او مرکزي لهجه کي د «چي» پر ځای) له چي (چي يي)، کي (ظرفي ادات) له کي( که يي، کي يي) . . . سره التباس پيدا کيي . د پښتو په بېلابېلو لهجو کي د داسي مشابه ټکو شمېر تر انده پاس دئ . پوښتنه دا ده، چي دا اصل او قاعده په خپله لهجه کي هم منئ که څنګه؟! په داسي حال کي، چي حتا د پوهاند صاب په اوسنی «ارشادي» ليکنه کي هم د داسي التباسو بولګي او مثالونه لږ نه دي، بيا خو د دې اصل و بشپړ او يومخيز تطبيق ته چندان هيله نسي کېدای؟!

**۳-د ويوالی (باقاعده ګي)**، دا مانا چي له بېلابېلو رغاونيزو (پېنوييزو) ځېلونو څخه هماغو ته معياري ارزښت ورکول کېږي چي بېدويي يا استثناء يي کمه وي، لکه دا دوی (قاعده) چي - زور(- a) په دوديز او بيا (فونيمېك) ليك کي د ښځينه پايلي په توګه په پام کي ونيول شي او ډېرګړی يي هم - ې (- e) ، نه دا چي د نورو دروګونو ګرډودي ډلو پر ورانديز د کندهاري ګرډود پر بنسټ تر خجن خپلواك (واوېل) وروسته a_ پر ə واړول شي او ə بيا په ډېر ګړي کي پر i_.
همداسي په نرينه نوموني کي درواخله چي کندهاريان يي د نورې ډېری پښتو ay_ پای د ناحجنی له کبله پر yə اړوي او بيا يي ډېرګړی هم د ɪi_ پرځای پر yə_ پای ته رسوي او داسي نور .

۳- د ډاکټر صاب د دې اصل په اړه فقط دونه پوه سوم، چي باقاعده ټکي دي تر بې قاعده ټکو معياري و پېژندل سي . نوري خبري يي نه وضاحت لري؛ او نه يي څه مثال ور کړئ دئ؛ ځکه نو څه تبصره هم نسم پر کولای . که تاسي درانه لوستونکي د دې اصل په پاته برخه پوهېدلي ياست، لطفاً ما هم په پوه کئ . تر هغه ځايه چي زه پوهېږم، د باقاعده او بې قاعده ټکو، عبارتو او ګرامري جوړښتو په اړه مسلمه خبره دا ده، چي د هري ژبي په بېلابېلو لهجو کي د داسي حالتو پراخ مثالونه ليدل کيږي . که دې اصل ته په بشپړ او هر اړخيز ډول پام و سي، د ژبي له پرمختګ سره مرسته کولای سي؛ خو د خواشينی ځای دا دئ، چي زموږ ځيني ژبپوهان « خپل عيب د ولي مينځ، د بل عيب د کلي مينځ » ګڼي؛ و خپلو بې قاعده ټکو ته هيڅکله د بې قاعده په سترګه نه ګوري؛ مګر د نورو قند وکورت دواړه په يوه بيه تلي . په دې برخه کي علمي خبره دا ده، چي له يوې خوا د ژبي له ټولو بې

قاعده حالتو سره یو شان چلن ( چلند) وسي؛ او له بلې خوا د بېلابېلو ټکو په ویلو او لیکلو کې مخفف یا لنډ شکلونه له  بې قاعده حالتو سره ګډ نسي . که مو راتلونکي ناسم او بې قاعده حالتونه په ریشتیا سره بې قاعده و بلل؛ او د هغو پر ځای مو د سمو بڼو و کارولو ته غاړه کښېښووله، بیا نو د هري لهجي ویونکي د خپلو ناسمو او بې قاعده ټکو له پرېښوولو څخه نټه نه کیي : دوه ورځې ( سمه بڼه : دوې ورځې)، د مذکر دپاره د مؤنث ضمیر کارول لکه : دا چیري ده؟ ( سمه بڼه : دی چیري دئ؟)، د مذکر دپاره د مؤنث فعل استعمالول لکه : هغه زموږ استاد ده( سمه بڼه : هغه زموږ استاد دئ)، د مفرد  دپاره د جمعي یا برعکس د جمعي دپاره د مفردي صیغي کارول لکه : احمد زموږ خپلوان دئ ( سمه بڼه : احمد زموږ خپل دئ)، ډېر خلق راغلئ دئ ( سمه بڼه : ډېر خلق/ خلګ/ خلک راغلي دي)، په دوکان کي ډېر مالونه شته دئ( سمه بڼه : په دوکان کي ډېر مالونه سته . په دې جومله کي «دئ» ته هیڅ اړتیا نسته . کي بیا هم څوک وایي لږ تر لږه یې باید د جمعي په بڼه و وایي : په دوکان کي ډېر مالونه شته دي) .  ډاکټر زیار صاب په عمل کي دغه راز ناسمو حالتو ته د بې قاعدګۍ په سترګه نه ګوري؛ ځکه خپل عیب د ولي مینځ دئ، هیڅکله یې نه ویني .

**۴- سپما،**دا مانا چي تر وسي وسي او وروستني بریده په لږو وییو کي ډېره مانا او مطلب وړاندي شي، بې له دې چي ابهام او ګونګوالی پیښ شي، یوه خبره چي په یوه جمله کي راتلای شي، دوو ته باید ونه رسېږي او یوه جمله چي له پنځو توکو څخه جوړېدای شي، په کارنه دي، اتو یا لسو توکو ته ورسي. البته په ادبي او هنري ډګر کي د یوه مطلب څو څو رازه څرګندول له سپما څخه سرغړاوی نه ګڼل کېږي، هغه هم په دې شرط چي نوې نوې مانیزې او بدیعي رنګارنګي منځ ته راوړي، د چا خبره تکرار حسن اوسي، نه دا چي تشه لفاظي بڼه ولري. له بده مرغه زموږ ډېر لیکوال د ډېر پخواني ختیز دود تر اغېز لاندې د هممانیزو وییو او جملو بیا بیا کارول د خپل لیکني سبك ستر توك ګڼي. سپما په کړاوړون (فعلي ګردان) کي هم ډېره پاموړ بلل کېږي او هغه دا چي له بېلابېلو ګردودي ځېلونو یې هماغه لنډه دا امرل کېږي : لکه د (یوه شوم) پرځای (ویوهیدم) یا د (ډوډۍ وخوړلي شوه) پرځای (ډوډۍ وخوړل شوه) . په وییي غونډونو، لکه: کابل پوهنتون، د (د کابل پوهنتون)، (کابل ښار) د (د کابل ښار) ... پر وړاندي . په نوېزونو کي، لکه: (رسنۍ) د (خبري یا خپرندویه رسنۍ) پر وړاندې.

۴-  پوهاند زیار صاب د پښتو په ځینو اشنا او متحدالشکلو عبارتو کي د اداتو( پر، په، تر، ته، د، له، و) و لوېدو یا حذف کېدو ته د کلیمو دسپما نوم ورکړئ دئ؛ حال دا چي په دغه راز  عبارتو کي اصلاً د سپما خبره نسته .«کابل پوهنتون»، «آریانا افغان هوائي شرکت »،«سپین زر شرکت» او داسي نور عبارتونه ځکه د « د » و ادات ته اړتیا نه لري، چي د ډېر تکرار او عاموالي په وجه یې اوس د یوه واحد عبارت بڼه اخیستي ده؛ خو دا قاعده پر نا اشنا او ځانګړو عبارتو نه تطبیقیري؛ د مثال په توګه مورږ هیڅکله نسو ویلای : « زرغونه کتاب »  یا « نل اوبه». باید هرومرو و وایو : « د زرغوني کتاب » یا « د نل اوبه » . دلته « د » د اضافت او ملکیت ښوولو دپاره د دغو عبارتو نه بېلېدونکي برخه ګڼله کیږي . که افغان د چا نوم یې، بیا خو « افغان کور » د ګرامر له اړخه سم نه دئ . باید « د افغان کور » و ویل سي؛ ځکه کور (مضاف) په افغان (مضاف الیه) پوري اړه لري؛ مګر که دا عبارت په خلګو کي ډېر اشنا او عام سي، بیا یې په جوړښت کي و « د » ادات ته اړتیا نه پېښیږي . په دې حالت کي «افغان کور» د یوه واحد ترکیبي عبارت بڼه اخلي؛ د مثال په توګه هر څوک ویلای سي : افغان کور  ته تللئ وم ؛ له  افغان کوره راغلم ؛ په  افغان کور کي غونډه وه او داسي نور .

د اشخاصو( حقيقي او حُکمي)، اثارو، اماکنو او داسي نورو په نومو کي و دغه راز بدلونو ته د سپما نوم ورکول علمي او دقيقه خبره نه ده؛ ځکه دا ډول سپما کول د ژبي په هر ځای او هر حالت کي جواز نه لري . په ژبو کي دا ډول بدلونونه نه د سپما، بلکي سلاست او روانی له مخي کيږي؛ ځکه خلګ هيڅکله و هغو ساختګي ټکو، ترکيبو او عبارتو ته غاړه نه ايږدي، چي د سادګی، اسانی او روانی له اصل سره ټکر ولري . تاسي وګورئ د کابل خلګو د انګرېزي ژبي ټاون ايس(Town Ace) عبارت د سادګی او اسانی په خاطر په «تونيس» واړاوه . د ډېري خواشينی ځای دئ، چي زيار صاب او د هغه لغت پردازه ملګري تر ګرده په پښتو کي د عربي او پاړسي ژبي و هغو کليمو ته نوي ټکي تراشي، چي له پېړيو پېړيو راهيسي زموږ د ژبي، ادب او لغوي زېرمي نه بېلېدونکي برخه ده؛ خو« ټاون ايس » غوندي نوو ټکو ته بيا لاس تر زني ناست دي . په دي ډول ګورو، چي عام خلګ د تاريخ په هر پړاو کي تر ټش په نامه اکاډيميسنانو، پوهاندانو او ډاکټرانو ډېر مخکي دي . ژبپوه او لغتپوه که خپل مسلکي مسووليت او رسالت سرته رسيي يا نه، خلګ د خپل طبيعي او غريزي عکس العمل له مخي هرومرو و نوو شيانو او پديدو ته د حل اسانه او ساده لار لټيي .

**۵ - اساني او رواني**،په دی جاج (مفهوم) چي د يوه ژبني توك د تلفظ (وينګ) او له دي سره بيا د ليك او چاپ ... له مخي پښتنو او نا پښتنو ټولو لپاره اساني او رواني ولري . دا آر په پښتو زده کړه او ښوونه کي بيا په ځانګړي ډول د زيات ارزښت وړ دی، لکه (راوړ شو)او راکړ شو، د (راوړل شو) او (راکړل شو) يا پيړ د پرير، درون - درانه د دروند - درانده پر وړاندي .

۵ - دلته ښاغلی زيار صاب د معياري ټکو په ټاکلو کي د اسانی او روانی و اصل ته ګوته نيسي؛ خو په عمل کي باور نه پر لري . زه ګرانو لوستونکو ته بلنه ورکوم، چي د پوهاند صاب نوي لغتونه يا نيولوجيزمونه (neologisms) وګوري؛ او په خپله قضاوت وکي، چي د نوو ټکو په جوړښت کي د سادګی، اسانی او روانی و اصل ته څونه پام کړی دئ . ليري مه ځئ همدا مضمون يي په دقت ولولئ؛ اوګورئ، چي پر نوو لغتوسربېره يي د بېلابېلو ټکو، عبارتو او جوملو( جملو) په ترکيب کي د سلاست او سادګی و اصل ته څونه توجه کړي ده؟ اريان يم، چي د ډاکټر زيار صاب شاګردانو به د هغه له ليکچرو او ليکچر نوټو څخه څرنګه استفاده کوله؟ زه خو د استاد الفت، استاد ريشتين، استاد حبيب الله تږي، استاد صديق روهي، استاد بختاني او ډېرو نورو په ليکنو مړېده نه لرم؛ خو د زيار صاب د يوی مقالي لوستل مي د زړه سبک او شومه و باسي . ما ته د دي توپير علت په دي کي ښکاري، چي نور ليکوال، شاعران او محققان د خلګو په ساده، خوږه او روانه پښتو خبري او ليکني کيي؛ خو ښاغلی زيار صاب په داسي ژبه اثار کاږي، چي د پښتون اولس ژبه نسي بلل کېدای . زه دي ژبي ته د پښتو پر ځای « مبنتو» وايم، چي په حقيقت کي د زيار صاب د اختراع کړي ژبي او پښتو يو ترکيب دئ . د همدي دليل له مخي د دي ژبي زده کړه او پوهېدل د هر سړي يا لږ تر لږه زما غوندي کسانو کار نه دئ . کشکي زيار صاب د « مبنتو» پر ځای په خوږه او سپېڅلي پښتو ژبه خبري او ليکني کولای، چي پر لروبر پښتنو سربېره يي و ټولو افغانانو ته فيض رسېدلای .

**۶ - خوږ، غږي او بلاغت**،چي يو ژبنی توك په ټولنه کي (دا کثريت له نظره) رکاکت او کراهيت ونه لري. د ساري په توګه له فونولوجيکي او ګرامري او ان لغوي او محاوروي وارينټو د يوه ګرانښت او خوږوالی زيات

وي، لکه: (هیلی ته لامبو ښوول) د (کوندي ته غوول ښوول) پر وړاندي یا (نتل) د (رټل)، (وختېری) د (وخت ګوډی) پر وړاندي ... .

۶ - مخکي مي د زيار صاب د خبرو او ليکنو پر فصاحت او بلاغت څو خبري وکړې . په دې لنډ بحث کي همدونه بس دي . دلته د پوهاند صاب پام څو نورو ټکو ته را ګرځوم :

د جناب زيار صاب په ليکنو کي لوی تضاد او تناقض دا دئ، چي له يوي خوا د عربي او پاړسي ژبي و ډېرو اشنا او مأنوسو کليمو ته خپل ټکي را باسي؛ مګر له بلي خوا بيا بې اړتيا د ژبي د عامو او مروجو ټکو پر ځای د عربي، پاړسي او انګرېزي ژبي لغتونه کاريي . په بله وينا، په هغه کار کي بېځايه ګوتي وهي، چي بايد پر خپل حال پرېښوول سي؛ او هغه څه بيا په خپله اصلي يا مروړلي بڼه راخلي، چي عامو خلګو ته د اسانه پوهېدني په مخسد بايد په روښانه او واضح ټکو ترجمه سي . « کراهيت » يې يو ژوندی مثال دئ . که څه هم په پښتو، په تېره بيا جنوب - لوېديځه لهجه کي د دې مفهوم د افادې دپاره زياتره د« کهښت » ټکی کاريږي، چي خواګرځی، کرکه او نفرت يې نور مترادف ټکي دي . سره له دې هم ځيني کسان دا کليمه د« کراهيت » پر ځای د «کراهت» په بڼه ډېره استعماليي . په عربي متونو کي« کراهة » او« کراهية » دواړه راغلي دي . په پاړسي کي هم د پښتو په شان تر« کراهيت » د « کراهت » بڼه ډېره عامه او مروجه ده . البته، هيڅوک د اړتيا پر مهال د پاړسي، عربي، انګرېزي او نورو ټکو د کارولو مخالف نه دي؛ خو د زيار صاب غوندي کسانو له خوا، چي د عربي ټکو سيوری په توره وهي، د داسي ټکو استعمال د تعجب او اريانی وړ دئ . پوښتنه دا ده : کله چي په خپله ژبه کي اسانه، روانه، خوږه او ژوندی کليمه لرو، ايا د بلي ژبي د ګراني او نا اشنا کليمي د استعمال جواز لرو که يا؟!

کي لرو کمه بڼه يې سمه ده : « کراهت » که « کراهيت » ؟!

تر دې مخکي يې د سپما تر سرليک لاندي د « ختيځ » کليمه هم د لهجه يې تلفظ له مخي د« ختيز » په بڼه کښلې ده . تر هغه ځايه، چي زه پوهېږم د« ختيځ » ترکيبي ټکی د ختويا ختلو ځای ته وايي . که زه نه يم تېروتلئ، بيا خو په « ز » باندي د « ځ » اړول د کليمي و مانا ته لوی زيان پېښيي . ايا دا عمل د دې خبري څرګند ثبوت نه دئ، چي ډاکټر صاب په شعوري يا غيرشعوري توګه د کليمي اصلي او کره بڼه تر خاورو لاندي کيي؛ او پر ځای يې د خپلي لهجي و ناسم تلفظ ته عموميت ور بخښي . ښايي ډاکټر صاب به د دې کار دپاره بيا هم استدلال وکي، چي « ختيز » د اکثريت خلګو تلفظ دئ؛ څکه نودلته د سم او ناسم خبره نه چليږي . تر دې خبرو پوري د ډاکټر صاب په معياري پښتو کي يو بل تضاد او تناقض هم را په ياد سو . ډاکټر صاب په خبروکي د نوي ژبپوهني، په تېره بيا ږغپوهني(phonology/phonetics) له اصولو او قواعدو سره سم ټينګار کيي، چي د پښتو ټکو په معياري ليکدود کي بايد د هغو و صوتي يا اوازي ځانګړتياوو ته ټينګ پام وسي؛ خو په عمل کي له څو ګوتو په شمار ټکو پرته د لرغونپالو(متقدمانو) له نرخه نه وزي . کليمه، جومله ، هونر، ګونا، دوښمن، روستم، سوهراب، دونيا، مخسد او سوونه نور ټکي په داسي بڼه کاري، چي د هغو له فينالوجيکو/ فونولوجيکو خصوصيتو سره هيڅ اړخ نه لګيي . استاد شپون په داسي حال کي چي په ژبپوهنه کي د نبوغ او استادی هيڅ دعوه نه لري؛ خو سره له هغه هم په عمل کي تر زيار صاب د دخيلو ټکو په املايي بڼوکي د هغو و صوتي ځانګړتياوو ته ډېر پام کيي . په بله وينا، زياتره دخيلي کليمي په هغه بڼه کاري، چي د پښتنو له وينګ ( تلفظ) سره ډېره همرنګي يا نيژدېوالی لري. زه د دې ډلي پوخ ملګری يم . لکه ځنګه چي مو هندي «جهګړا»، «کهرا»، «کهوټا» يا عربي «معلوم»، «تسبيح »،«محض» يا پاړسي «لشکر»، «آبدست» او «شهر» . . . په « جګړه »، « کره »، « کوټه »،

«مالوم »، « تسپي »، « مازي »، « لښکر »، « اودس » او« ښار » . . . واړول د ژبې له نورو دخیلو ټکو سره هم باید سَوکه سَوکه همدا چلن وکو . د ژبپوهني، ږغپوهني، عقل او منطق غوښتنه دا ده، چي هر څه باید د پښتو له مروج تلفظ سره همرنگي یا نیژدې والی ولري؛ خو د زیار صاب د نوي ژبپوهني او ږغپوهني آس پر نیمه لار ولاړ دئ .

بله خبره دا چي (کونډې ته غوول ښوول) او داسي نور بازاري مثالونه د هیچا، په تېره بیا علمي کسانو له شخصیت سره ښه نه ایسي . نه پوهېږم پوهاند صاب له دې مثال سره څه مینه او دلچسپي لري، چي په هر ځای کي یورته او کښته کیږي؟ زیار صاب غونډي « علامه او فهامه » شخصیتو ته خو باید د ژبپوهني په موضوعاتو کي د مثالو هیڅ کمی نه وای . که څوک د ضرورت له مخي اخلاقاً لڅي یا ناوړه خبري و وایي یا ولیکي، هیڅوک یې دا عمل عیب نه گڼي؛ خو بې ضرورته یادونه یې د ټولني له مسلطو اخلاقي ارزښتو څخه د لیکوال پر بې خبری او لیري والي دلالت کیږي . باید هېره نه کو، چي په پټو سترگو د پردي دود او دستور پیروي د ترقی او پرمختگ نخښه نه ده .

۷ - **لرغونوالی**،په دې جاج چي د وییزو او گرامري وارینتونو په ډله کي هماغو ته معیاري ارزښت ورکول کېږي چي یې تر نورو تاریخي او اېتمولوجیکي لرغونوالی ډېر وي، لکه: (څمکه) د (مزکه)، (ولاړم) د (لاړم) پر وړاندې. دا چي له نجل - نجن، نجلی - نجنی، زما - دما، زموږ - دموږ، ستا – د تا او ستاسي – د تاسي، ژغ - جغ، جندره - ژندره، ژرنده - جرنده، نږور - نگور... څخه وروستي ځېلونه لرغوني دي، خو د ویونکیو زیاتوالی او له دې سره کره والی د مخنیو پر خوا دی .

۷ - د معیاري ټکو په چنلو کي د لرغونیتا و اصل ته پام کول، سل په سل کي سمه او دقیقه خبره ده؛خو له بده مرغه چي ډاکټر صاب په عمل کي د یوه توت ارزښت نه ورکیږي؛ مثلاً « بخښل »، « ښکنځل » « کښېناستل » ، « کښېښوول/ کښېښودل »، « نخښه »، « ږغ » او داسي نور د پښتو ادب د بې شمارو اثارو په اِستِناد تر «ښښل»، « کنځل »، « کیناستل »، « کېښوول/ کېښودل »، « نښه »، « غږ » او داسي نورو لرغوني دي . سره له دې هم زیار صاب او د هغه پیروان دا ټکي د خپلي لهجې د تلفظ له مخي کاږي . زه د ختیځي او مرکزي لهجې ویوونکي هیڅکله په دې کار نه کرم؛ ځکه په دې خبره ښه پوهېږم، چي د نورو ټولنیزو پدیدو په شان د ژبې په دغه راز بدلونو کي د سیاسي، اجتماعي، فرهنگي، اقلیمي او اقتصادي شرایطو پراخ او ژور لاس پروت دئ . د تأسف خبره فقط دا ده، چي زیار صاب، د هغه سیاسي ملگري او شخصي خواخوږي د دې واقعیت پر پوهېدو سربېره بیا هم سر و ډېري ته نیسي؛ او د سرغړوني دپاره یې په اصطلاح دلایل او توجیهات وړاندي کیږي . زیار صاب کله کله وایي او کاږي، چي گونډي کلونه کلونه کنداریانو (مخسد یې علامه حبیبي، علامه رشاد، استاد بېنوا او نورو کنداري فرهنگیان دي) خپله لهجه پر نورو پښتنو تپلي وه؛ او اوس هغه وخت را رسېدلئ دئ، چي د ده په اصطلاح دا بې عدالتي ختمه؛ او پر ځای یې د نوي ژبپوهني تر پوښ لاندي د ده لهجه خپله لهجه دود سي؛ خو واقعیت قطعاً داسي نه دئ . کنداري استادان ټول ژوندي وه ، چي زیار صاب او د هغه سرزورو ملگرو د افغانستان په رادیو تلوېزون کي د « ږغ »، « سو » او داسي نورو لرغونو تلفظو و ویونکو ته د نطاقی یا ویاندی کار نه ورکاوه . که څه هم کنداري استادانو د « معیاري پښتو » تر نامه لاندي د ښاغلي زیار او ملگرو چپه او راسته غوبلونه نه منل؛ خو سره له هغه هم د هیواد په فرهنگي ډگر ، خاصتاً ژبپوهنه کي هره پرېکړه عملاً د زیار

صاب او ملګرو له خوا کېده . که د افغانستان په خلګو او تعليمي نظام کي د پښتو د جنوب - لوېديځي لهجي ( اصطلاحاً کنداری لهجي) څه نفوذ او اغېزه تر سترګو کېدله، علت يي د هيواد په سياسي او فرهنګي برخه کي د کنداري استادانو او فرهنګيانو ناوړه نفوذ نه، بلکه هغه عوامل وه، چي زه يي د اسانی او عموميت په نامه يادوم؛ ځکه د پښتو جنوب - لوېديځه لهجه د لرغو او اصيلو ږغو له پلوه د نورو پښتني لهجو په پرتله ارته او بډايه ده . د پښتو ځيني پخواني او اصيل ږغونه؛ لکه « ځ »، « څ »، « ژ »، « ږ »، « ښ » او داسي نور يي په بشپړ اصالت اوامانت خوندي کړي دي . له بله پلوه جنوب - لوېديځه لهجه د لغوي زېرمي له پلوه هم تر نورو پښتني لهجو ډېره پراخه او شتمنه ده؛ ځکه کندهار د تاريخ په اوږدو کي د افغانستان، په تېره بيا پښتنو د لوی تجارتي، فرهنګي او سياسي مرکز په توګه د نورو ژبو(سنسکريت، هندي، پاړسي او عربي) و فرهنګي راکړي ورکړي ته پراخ امکانات برابر کړي وه او دي . له همدې سَوَبه يي نه يوازي افغانان، بلکي ايرانيان او هنديان هم له ږغو، کليمو او عبارتو سره ډېره اشنايي لري . « خَت » سوچه پښتو ټکی دئ؛ خو زياتره پښتانه د « خت » پر ځای د عربي « قميص » مفغنه بڼه «کميس » اسانه ګڼي . « وګړي » د پښتو لرغونی او اصيل ټکی دئ؛ تر اوسه يي هم ځيني پښتانه په خبرو کي وايي . سره له دې هم د عموميت د اصل له مخي اوس د « خلګ/ خلک » مفغن ټکي له هغه ميدان ګټلئ دئ . « سهار » هم له همدې ډلي مفغنو ټکو څخه دئ، چي د « ګهيځ » تر لرغوني او سپېڅلي ټکي زيات مروج او اشنا دئ . بې شکه د دې خبرو مانا دا نه ده، چي موږ بايد خپلي لرغوني او سپېڅلي کليمي له چلنه وغورځوو، بلکي يوازي د دې حقيقت بيان دئ، چي د عموميت او اسانی لاس پر هر څه غالِب دئ . تر دې لنډي يادوني وروسته بيرته را ګرځو د معياري ټکو په غوره کولوکي د لرغونيتا و اصل ته . څونه د شرم او خواشينی خبره ده! نور خلګ چيري و رسېدل؛ او موږ شوڅګان پر څه شيانو يو د بل کرنکي پري کوو. په پښتنو کي به ترقي او پرمختګ څنګه راځي، چي موږ د «ږغ » او« سو » يا « غږ » او « شو» له امله پښتانه د کار له انساني حق څخه بې برخي کوو؟! خپلسري، سرتمبګي او جهالت خو څه ښکرونه او لکی نه لري . دغه يي تر ټولو روښانه مثال دئ . تاسي بين المللي راديوګاني او تلوېزونونه وګورئ، په ډېر وياړ او خوښی سره وسپين، تور، عرب، پاکستاني، ايراني او حتا افغان ته کار ورکيي . دا هيڅکله شرط نه ګڼي، چي نطاقان او خبريالان يي بايد خامخا د دې يا هغه لهجي له تلفظ سره سم خبرونه او رپوټونه و وايي . د ژبو و لهجه يي توپيرو ته نه د کمزوری او نيمګړتيا، بلکي رنګارنګی، پيوستون او بشري پرمختګ په سترګه کتل کيږي .

زه وايم « سو » او « شو »، « ږغ » او « غږ »، « کښېناستل » او « کيناستل » ټول د پښتو ژبي زېرمه او سرمايه ده . بايدهيڅکله يي له لاسه و نه باسو . دا د ژبي د معياري کولو لار نه ده، چي په جبر او اکراه سره يوه بڼه د بلي پر ځای و دروو . موږ بايد په دې علمي خبره سر خلاص کو، چي په ژبه کي معيار راوستل د يوی ټولني په سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي اړېکو پوري اړه لري . د معيار په اړه د ژبپوهانو يا حکومتي چارواکو پرېکړي هم تر هغه مهاله د اوبو د سر کرښي بلل کيږی، چي د دغه راز شرايطو او اړېکو ملاتړ له ځانه سره و نه لري . کله مو پر دې خبره يو څه سوچ او غَوَر کړئ دئ، چي د افغانستان په پاړسي (دري) کي اوسنی معيار( ښه يا بد) چا منځ ته راوړئ دئ؟ په پاړسي کي خو هيچا داسي ژبپوهان نه دي ليدلي، چي د سوټي په زور يي پر خلګو د ژبي معيارونه تپلي يي . جواب روښانه دئ . د دري ژبي اوسني معيارونه په واقعيت کي هغو سياسي، اجتماعي، فکري، فرهنګي او اقتصادي شرايطو جوړ کړل، چي دري ويوونکو خلګو ټولنيز ژونديي اغېزمن کړئ ؤ او دئ . نتيجه دا چي معياري ژبه که و غواړو يا و نه غواړو، هرومرو منځ ته راځي؛ خلګ د طبيعي قانون له مخي خپل ناوړه او زموخته ټکي، ترکيبونه، عبارتونه او ګرامري جوړښتونه پرېږدي؛ او پر ځای

يي د نورو اسانه او خواږه بدیلونه اخلي . داسي پړاو ته د رسېدو ورځي، میاشتي او کلونه په ټولنیز ژوندانه کي د خلګو تر منځ د بېلابېلو اړیکو او مناسباتو په مزبوتوالي او پراختیا پوري اړه لري .

زه وایم او کاکا! ته که د « ړغ »، « کښېناستل »، « ښکنځل » او داسي نورو په ویلو کي مشکل لرې، زې ( زه یې) پر سر او سترګو منم؛ ځکه زه هم له مشکلاتو او نیمګړتیاوو خالي نه یم؛ اما د مشکل حل دا دئ، چي زه بې ( به یې) په خپله بڼه وایم او لیکم؛ تې ( ته یې) په خپله بڼه وایه او لیکه؛ په دې ډول به نو هم ته یې هم به زه؛ خو که ته ډېري ته سر نیسې؛ او وایې، چي له دې دوو - درو مغیره بڼو څخه به هرومرو یوه جوړېږي، بیا نو زه پر خپله اصیله او لرغوني بڼه ټینګ ولاړ یم؛ او هیڅا ته حق نه ورکوم، چي د پښتو ټکو د لرغونو او اصیلو بڼو پر ځای مي د خپلو اوښتو او مسخ سوو بڼو و ویلو او لیکلو ته اړ کړ کي؛ ځکه دا پرېکړه علمي او منطقي اساس نه لري؛ او هر غیرعلمي اقدام پایښت نسي کولای .

په پښتو لهجو کي د اکثریت او اقلیت یا ډېري او لږي ادعاوي نه اِستِناد او ملاتړ لري؛ او نه هم علمي تاداو او بنسټ . اِستِناد او ملاتړ په دې نه لري، چي موږ خو تر اوسه حتا د هیواد د وګړو بشپړه او دقیقه سرشمېرنه لا نه لرو، د پښتو لهجو د ویوونکو احصاییه خو پر لو( لویه) لار پرېږدئ . د یوې ژبې، په تېره بیا پښتو ژبې د بېلابېلو لهجو د ویوونکو سمه او دقیقه سرشمېرنه د پوهنځی د یوه ډیپارټمینټ څه چي حتا د یوه پوهنتون یا بلي تحقیقي مؤسسي تر سویې هم لوړ کار دئ؛ ځکه د پښتو ژبې د مختلفو لهجو د دقیقي احصاییي دپاره د حکومتو او دولتو په سویه د افغانستان، پاکستان او هندوستان و همکاریيو او ګډو مرستو ته اړتیا ده؛ ځکه د پښتو ژبې په بېلابېلو لهجو پوري تړلي پښتانه په دې درو هیوادو کي خواره واره دي . عِلمي اساس په دې نه لري، چي د یوې ژبې په مختلفو لهجو کي دا خبره له امکانه لیري نه ده، چي د اکثریت لهجه په غرو او دښتو کي کلابنده یې؛ تر خپلو غرو او ډاګو آ خوا یي څوک و نه پېژني؛ خو د اقلیت وګړو له لهجي سره ټول خلګ اشنایي ولري . د همدې دلیل له مخي ما ته د اکثریت او اقلیت د هندسي فارمول پر ځای د عمومیت او اسانی اصول، ډېر علمي او معقول ایسي . زموږ ځیني لهجې تر اوسه پوري په خپلو غرو او درو کي ایسار دي؛ ټول پښتانه یي له لغوي زېرمي، وراشو او نورو ژبنیيو ځانګړتیا وو سره اشنایي نه لري؛ ترویجول او عامول ډېر وخت غواړي . ژبه د پوهولو او پوهېدلو وسیله ده . په هر څه چي خلګ ژر او اسانه وپوهېږي، په هغه لهجه خبري کول ګټه لري . د ژبې د معیاري کېدو علمي او طبیعي بهیر هم په واقعیت کي پر دغه لار روان دئ . دا موږ یو چي په بې ځایه تعصبو او خپلسریيو سره د ژبې د علمي او طبیعي معیاري کېدو مخه نیسو؛ ځکه خلګ هغه څه خوښیي او اخلي، چي په ویلواو لیکلو کي تکلیف و نه لري . داسي ټکي بېله شکه همغه عام، اشنا او اسانه ټکي دي .

حق خو دا دئ، چي زیار صاب د معیاري پښتو په را منځ ته کولو کي د ځینو نورو اصولو تر څنګ د لرغونتیا تر اصل هم تېر سي؛ ځکه یوازي په خوله ویل هیڅ څه ګټه نه لري . زیار صاب چي په منطق او استدلال کي وځلورو دېوالو ته ودرېږي، بیا نو یا د ډېري او لږي و بې بنیاده فارمول ته لاس اچیي یا د خپلي ډاکټری په کاغذو خلګ بېرېږي . زه وایم هغه ډاکټري، پوهاندي، اکادیمیسني او استادي څوک په بلاوهي، چي پر علمي استدلال او منطقو ولاړه نه یي . که د اکثریت او اقلیت په بې بنیاده او غیرعلمي خبرو پسي وګرځو، بیا خو د معیاري کولو و نورو اصولواو قواعدو ته هیڅ ځای نه پاتېږي؛ ځکه د اکثریت لهجه که سمه یي یا ناسمه باید په پټو سترګو پر نورو لهجو هم و تپل سي؛ حال دا چي علمي مسألي هیڅکله د اکثریت او اقلیت د فارمول له مخي نه حلیږي . په علمي مسألو کي همېشه د استدلال پیاوړیتا ته ارزښت ورکول کیږي . موږ ټول پوهېږو، چي د مځکي د ګرځېدو

په باره کي د گاليلي نظريه د هغه په ژوند کي هيچا نه منله؛ خو نن ټول جهان د هغه و دې علمي کشف ته ژور درناوی کيي .

موږ بايد د مېخانيکي او غيرعلمي معياري کولو پر ځای د ژبي و اسانولو، پراخولو او علمي کولو ته پام وکو .
«سو» يا « شو »، « ږغ » يا « غږ »، « کښېناستل » يا « کېناستل » په يوازي سر و پښتو ته هيڅ نسي وکولای؛ خو ښه ليکنه، ژوره څېړنه او خوندوره ژباړه وپښتو ژبي ته ډېر څه وركولای سي . موږ بايد په دې خبرو پسي سر و نه گرځوو، چي دا ښه ليکنه، ژوره څېړنه او خوندوره ترجمه چا کړي ده؛ په جوملو کي «سو» او « سي » ليکلي دي، که « شو » او « شي » . پښتانه دونه بې شعوره او جاهل نه دي، چي په دې کوچنيو او بې ارزښته توپيرو پوه نسي . دا کوچنی موچنی رنګارنګي د ژوند مالګه ده . لکه څنګه چي مې د انګرېزي ژبي مثال و وايه، په هيڅ وجه د خلګو د يووالي او پرمختګ مخه نه نيسي . پښتانه ليکوال، څېړونکي او روښانفکران بايد د قبيله يي او لهجه يي اختلافو پر ځای و خپلو حياتي مسألو ته پام واړيي . **د افغانستان په اوسنيو شرايطو کي د پښتانه ليکوال، عالِم او روښانفکره تر ټولو ستر ملي مسووليت او رسالت دا دئ، چي له پښتون اولس سره د پردو يرغلګرو، مزدور رژيم او جنګي ډلو ټپلو د زور زياتي پر ضد د احتجاج ږغ پورته کي . ايا دا خبره منطق لري، چي د پښتو شعر، ادب او نورو فرهنګي ارزښتو د ساتني او پرمختګ په نامه دوري هوري ښغاستي پاستي کوو؛ خو د مظلومو او بېوزلو پښتنو و ويرجن حالت ته ځانونه ناګاره اچوو؟! ايا ژبه، ادب، فرهنګ، دين او مذهب بې خلګو څه مانا او ارزښت لري؟! ايا دا د انسانيت او افغانيت خبره ده، چي ټول افغانان، په تېره بيا اسکېرلي پښتانه شپه او ورځ د زرهويني خوري؛ خو په دې يا هغه غونډه کي يوازي د ځان په غټاوي پسي منډي وهو؟! ايا د افغان اولس د روان ناورين د ختمولو په نيامت مو هم څه ويلي، څه ليکلي يا چيري ځغستلي دي که څنګه؟! - تکيه به رنګ سرخ از ويراستار پورتال است-**

د « سو » او « شو»، « ږغ » او « غږ »، « کښېناستل » او « کېناستل » او داسي نورو لهجه يي او قبيله يي توپيرو پر ځای بايد خپل ټول واک او ځواک و دې ته واړوو، چي په پښتني کلو او باندوکي د پوهني ډېوی بلي سي؛ په مکتبو او پوهنتونوکي شمېر لا زيات او زيات سي؛ پښتنو شاګرادانو او محصلانو ته د پښتو ويلو او پښتو ليکلو په ګونا سپکاوی ونسي؛ او پښتو ژبه د ژوندانه په ټولو برخو کي د مروړلي او زموخته ترجمي له ثانوي دريځ څخه د تأليف، تحقيق او تخليق و مقام ته لوړه سي . . .

په پای کي له ډاکټر صاب څخه هيله کوم، چي زما وسپينو خبرو ته د شخصي او سياسي مخالفت يا لهجه پالني او سمت پالني رنګ ور نه کړي؛ ځکه زه د انسانيت او حقيقت د مکتب پيرو يم . د لهجي، ژبي، قوم او مذهب په لوموکي نغښتل د ځان مرګ بولم .